
# په اورېګان ایالت کې د ماشومانو د محدودیت قانون

## د ماشومانو د سفر محدودیتونه یو انتخاب نه، بلکه یو قانون دی!

ټول ماشومان باید په یوه انجن لرونکې نقلیه وسیله کې د سپرلۍ پرمهال د ماشومانو لپاره په یوه ځانګړي سیټ کې په مناسب ډول مهار شي، تر هغې چې د لویانو لپاره د سیټ کمربند په سمه توګه په هغوی باندې راکش شي.

د ماشومانو لپاره د ځانګړي شوي سیټ سیسټم یو داسې سیستم دی چې د وسیله نقلیې د تولیدي شرکت لخوا د ماشوم وزن او عمر ټول په پام کې په کې نیول کېږي.




د هر ډول سیټ لپاره توصیه شوې سني محدوده د موټر د اصلي او تقویتي سیټونو مطابق د ماشوم پرمختګ، ودې او ونې/وزن ته په کتو سره تفاوت لري. د موټر د اصلي او تقویتي سیټونو د تولیدي مرجع له لارښود څخه استفاده وکړئ ترڅو وګورئ چې د هر سیټ لپاره د ونې/وزن محدوده په پام کې نیول شوې ده که څنګه، همدارنګه وګورئ چې له سیټ څخه څنګه په سمه توګه استفاده کېدی شي. که چېرې یو ماشوم آته کلن یا تر هغې ټیټ وي او تر 9/4 اینچ ټیټه ونه ولري، د اورېګان قانون امر کوي چې تاسو باید د ماشوم د مصؤنیت له سیستم څخه استفاده وکړئ.

### د موټر د شا سیټونه

**له زیږون تر 2 کلنۍ پورې**

ماشوم لږ تر لږه تر 2 کلنۍ یا تر هغې چې وزن یا قد یې د یاد موټر د سیټ مطابق حداکثر حد ته ورسېږي، په شاتني سیټ کې مخ په شا کېني. (په دواړه لوریو یعنې د شاتنیو او مخکینیو سیټونو لپاره له متحرک سیټ څخه کېدی شي استفاد وشي.)

**د شا سیټ د کمربند موقعیت**

» په اوږو کې یا له اوږو څخه لاندې موقعیت کې کمربند.
» د کمربند موقعیت د سینې د پاسه تر دواړو تخرګونو لاندې دی.

**د کمربند تنظیم یا نصب**

د موټر د مخې یا شا سیټ باید یا د موټر د اصلي سیټ د کمربند او یا هم د لاندینۍ برخې سره وصل وي.

په سمه توګه نصب شوي د موټر کمربندونه باید په افقي او طولي ډول تر یوه انچ ډېر کش نه شي.

**هېڅکله باید د موټر د مخې یا شا سیټ فعالو هوایي کڅوړو یا اېربګونه ته مخامخ کې نه ښودل شي.**

### د موټر د مخې سیټ

**د 2 کاله عمر لرنکی ماشوم چې وزن یې حداقل 40 پونډه وي**

کله چې ماشوم نسبت شاتني سیټ ته غټ یا د مخیني سیټ لپاره له ټاکل شوي حد څخه یې قد یا وزن زیاتېږي باید تر هغې په شاتني سیټ کې کېني چې وزن یې حداقل 40 پونډه شوی وي. د تبدیل او تغیر وړ له سیټونو څخه کېدی شي په مخکینیو او شاتنیو دواړو سیټونو کې په ترکیبي ډول استفاده شي، دغه ترکیب د مخکینیو او سیارو یا متحرکو سیټونه یوه ترکیب دی.

**د مخې سیټ د کمر موقعیت**

» د اوږو منځ یا اوږو د پاسه د کمربند موقعیت
» د کمربند موقعیت د سینې د پاسه تر دواړو تخرګونو لاندې دی.

**نصب**

د موټر د مخې سیټ کمربند باید د نقلیه وسیلې د عمومي کمربند یا د موټر په لاندینۍ برخه یا غولي باندې تړلی وي.

په سمه توګه نصب شوي د موټر کمربندونه باید په افقي او طولي ډول تر یوه انچ ډېر کش نه شي.

### متحرک سیټ

**له 4 څخه تر 8 کاله عمر درلودونکی ماشوم**

سپارښتنه کېږي چې ماشومان په شاتني سیټ کې له کمربند څخه په استفادې سره تر هغې پورې کېناستلی شي چې د ماشوم وزن یا قد له هغه ټاکل شوي حد څخه نه وي اوښتي چې د تولیدوونکې مرجع لخوا د موټر د یاد سیټ لپاره تعین شوی دی.

کله چې د ماشوم وزن یا قد له ټاکلي حد څخه اوړي، نو دا هغه وخت دی چې هغوی باید متحرک سیټ ته انتقال شي، خو په هغه صورت کې چې هغوی لاهم له د موټر په شاتني سیټ کې کېني.

(ترکیبي سیټ د مخکینیو او سیارو یا متحرکو سیټونه یو ترکیب دی)

**د متحرک سیټ د کمربند موقعیت:**

» د اوږو کمربند په اوږو او سینې باندې تکیه دی، نه په غاړه یا صورت باندې.
» د ملا کمربند د ورنو په سر باندې وي (نه په خېټه باندې).

**نصب**

د متحرکو سیټونو په صورت کې د ماشوم د مهارولو په موخه د موټر له خوندیتابه کمربند څخه استفاده کېږي او د ماشوم په بدن او غاړه باندې د سمون په برخه کې مرسته کوي او ماشوم تر هغه ځایه پورته کوي چې کمربند له ګېډې څخه لرې وساتي.

### د سیټ کمربند

**8 کلن او له هغې څخه د لوړ عمر لرونکي ماشومان**

ستاسو په موټر کې د مصؤنیت یا خوندیتابه کمربند داسې ډیزائن شوي دي چې لویان خوندي وساتي نه کوچنیان. له دې امله چې د ماشومانو د ودې کچه مختلفه وي، هغوی کېدی شي لاهم اړتیا ولري چې له 8 کلنۍ څخه تر 12 کلنۍ یا له هغې څخه هم ډېر عمر لپاره له متحرکو سیټونو څخه استفاده وکړي. د اورېګن د قانون له مخې باید له د لویانو له مناسبو کمربندونو څخه استفاده وشي.

**د موټر کمربندونه په هغه صورت کې مناسب ګڼل کېږي چې:**

» د ملا کمربند په ورنونو باندې د پاسه وي (نه په خېټه باندې د پاسه).
» د اوږو کمربند په اوږو او سینې باندې تکیه دی، نه په غاړه یا صورت باندې.
» ماشومان باید دومره قد ولري چې په راحتۍ سره خپلې ګونډې د شاتني سیټ په څنډو باندې قات کړي او د نقلیه وسیلې د سیټ په شاتنۍ برخه تکیه وکړي.

په جدي توګه سپارښتنه کېږي چې ټول هغه ماشومان چې عمرونه یې له 13 کلونو څخه ټیټ وي، په شاتني سیټ کې کېني.

**په مخکیني سیټ کې** ډرېور او بل هر مسافر باید مصؤنیت کمربند وتړي، هر کمربند د یوه نفر لپاره دی. ډرېور او دمخې سیټ مسافر چې عمر یې 16 کاله یا تر هغې لوړ وي کیدي شي د حفاظتي کمربند د نه شتون په صورت کې تر $115 پورې نغدي جریمه شي.

**په موټر کې ناست هر سړی،** عمر او د سیټ وضعیت ته په نه پاملرنې سره باید د یوې محافظتي اتکا په واسطه تکیه کړی شي. هر هغه مسافر چې عمر یې تر 16 کلونو ټیټ وي باید کمربند واچوي او یا هم د ماشومانو د خوندیتوب له مناسب سیستم څخه استفاده وکړي. ډرېور باید ډاډ ترلاسه کړي چې هر هغه مسافر چې عمر یې تر 16 کلونو ټیټ وي، باید قانون مراعات کړي. ډرېور ښایي د 115$ په ارزښت نغدي جریمې سره مخ شي.

د مسافر ماشوم د خوندیتابه سپارښتنې: په امریکا کې د ماشومانو اکادمي، د لویو لارو د ترافیکي مصؤنیت اداره (NHTSA)، او د Doernbecher په نامه د OHSU اداري د مصؤنیت مرکز. له NHTSA څخه اخیستل شوي ګرافیکي طرحه او د کډوالو لپاره د Mohawk Valley د منابعو مرکز.

STATE OF OREGON 1859

04/2021